# اسلام او ښځه

تر اسلام پخوا عربو کې رواج وو
نجلۍ بده خو هلک ورته معراج وو

چې نجلۍ به سوه پیدا دچا پر کور
له خفگانه د پلار مخ بې واوښت تور ①

پر میرمنې به په قهر وو چې اې شومې
دغه عار دې ماته راوړلی له کومې؟

زهیروې به مې هرځای کې تربوران
چې مې وویني وای راغی ماده ځوان

زه په کومو سترگو گورم به خپل قام ته
لو لغته دې کړه را زما ننگ و نام ته

لور به څه کومه ژوند مې په بدرنگ
دا سپیره څو نه د ننگ ده نه د جنگ

نه د گټې نه د وټې، خوری تیاره
د بل لاس ته ده محتاج د اوږو باره

هلک ښه دی ملا تړلی وی د پلار
د پلار غښی، د پلار سپر، د پلار وقار

وسیله ده د روزی د ډیرو گټو
د ډیر مال و دارائی د ډیرو وټو

په ځوانی مې دی ملاتړ توره تر ملا
په آخر د ژوند مې ده د لاس امسا

هلک ښه دی په سفر تلای سی یو خواته
راوړی گټه خپل و کور خپل و ابا ته

باک یې نه وی که پر کور یا ځی صحرا ته
پر نجلۍ به زه پیره کوم میراته

هلک ورک به وی په زیار به یې گټې
نجلۍ ناسته به پر کور مفت بې څټې

په هلک مې کور ودان دی تر قیامته
نجلۍ ده د بل د کور د بل عورته

د بل کور چې په ودان وی زما یې څه؟
که نور ټوله په شادان وی زما یې څه؟

زهیروی مې خدای دا ولې څه مې کړي
خندوی راباندې خپل پردي وگړي

نه به مرې نه به یې بله بلا وړي
سپیره سري د هلک روزي به خوري

① النحل: ٥٨ - ٥٩

چی سی لویـه ورکوم به یې بـل چاته
هـغه چـاته چی کتای بې نـسوای مـاته

را ایستلي به می ستړگی وای په گوته
کـه پـه بـده یې کـتلی وای زمـا وره تـه

اوس هغه به زما زوم د لور میړه وی
او بیا ناست به می په سرکی د کاله وی

په کوم ستړگو به زه گورم د زوم خواته
چی بـه بـیایـی زما لـور و هـری خـواته

هابه کاندی په هغی چی څه یی زړه وی
زمـا بـه نـه وی نـور پـه امـر به دده وی

زما لـور بـه وی د بـل د پښتو عـورته
خـدمـتگاره د بل میـنـځه بی شوکـته

شپه و ورځ به پخدمت د هرگرنگن وی
بـیابه هـم خـوابدی دئ او مـاهـیجن وی

پـر زوم نوم به بږدم له نـازه فلانی جان
د نـوم پـای کی بـي آغـا وی او یا خـان

پـوخ سړی تـه بـه لـه ناز وایم نانـئ
د هـرچـا سره به وړمـه پـوست لمـځئ

پر خـپلوانو بی ایږدو مـوږ ښه نومان
هـا چی مـیندو دی بـلـلی په بل شـان

بیا به هم وهی زما لور سهار بـیگاه
چـی هــوس او آرزو یـی کـړی تـباه

هره ورځ به یی ښکنځی ورونه و پلار
گـوا په کس کی ده بـیکسه خوارو زار

که هرڅو یی کړو خدمت وړو یی زورونه
لابـه نـور هم صافـوی پر موږ تـیغـونه

کاشکی نه وای پـیدا سوی لور زما
یا پـیـدا په ورځ وای مړه پـه یـو بـلا

زه تـرکـومه به پـه غـاړه وړم دا عار
زه تـر کــومـه بـه پـدی یم شـرمسار

وړم پـه غـاړه بـه د شـرم دا زیـندی
تر هـغو چی زه ژونـدئ یم دا ژونـدی

هغه ورځ چی راپه زړه کړم چی به دا
زمـا له کـوره ځی عـورته د بـل چـا

نویې مرگ گڼم بهتره چی نور نه وی
زما ترکور ددې لپاره تورگور ښه وی

لور بې مړه کړه یابې ښخه کړه ژوندی
وشلول به یې له غاړی دعار دغه زیندی

نور له شرمه او له عاره به سوخلاص    لړی ختمه بې د سوچ کړه او وسواس
پدې قتل به یې ډیر فخر کاوه    پر بریتو بې د غرور لاس تیراوه
مړه کوله لور ها چا چی غیرتمن وو    پخپل قوم کی د اوچته نوم څښتن وو
پدی کارکی به ددوی ډیره سیالی وه    بیچاره لور د رواج یو قربانی وه

---

روایت له یو ښه یار د پیغمبر دی    چی راوړی کتابو په زیر و زور دی
څنگه لور یې کړه ژوندی ښخه پخپله    او بیا څنگې په توبو توبو ژړله
ول لا نه وو قبول کړی ما اسلام    بت پرسته وم، جاهل او نافرجام
زموږ رواج وو، هاکس لور به ښخوله    چی به څانته یی لو لوټه ایښووله
له قسمته زما هم، یو لور پیدا سوه    گوا پر کور باندی نازله می بلا سوه
په همزولو کی به ناست وم شرمیدلی    له خجلته می نیم وزن وو بایللی
پدی چرت کی وم چی څه وکړم په دې    څنگه ځان خلاص کړم لدغه زولنې
ما زاری کړلی لوی بت ته په ژړا    چی می لور مړه که په تبه یا وبا
یا می هیله وه چی گوندی یوه ورځ    لور می ولویږی له بامه یا له کځ
په دی هیله تیریده به ورځ و شپه    راته سخته وه چی خپله یې کړمه مړه
په دې ترځ کی سوله تیر یو څو کلونه    لور می لوسوه اخیسته به یې گامونه
دا نجلی وه ډیره ښکلی خوش نمایه    محبتی وه په خندا به وه له ورایه
چی بی ولیدم په غیږ کی رالویده به    په نازکه ژبه ماته گړیده به
هم به خوند ددی خندا راکاوه ماته    هم به عار د قوم، سزا راکول ماته

مغز می ستړی وو پدا رنګه سوچو کی    راځه ورکه لار ګودر هسی فکرو کی
یوه ورځ می لور ته ووې په خندا    چی راځه د خپل ابا سره یو خوا
درته دربه کړم دباندی ښه چکر    درته وابه خلم خواږه مصری شکر
نجلی وزغستل و مورته چی اُمی    پلار می بیایی که راواغوندې کالی
مخ یی پریوی بیاسوه مور ته په عذرو    چی که سترګی یی کړی توری په رنجو
ځان یی لږ وخت کی تیار کړ آراسته    بیایی ماته په ناز ناز کړی راښکاره
وی نیولمه تر لاس چی نو راځه    په عذرو وه په نازو په کرشمه
راروانه سوه په پښو نازکو خپلو    په امید وه د خوږو د ورکولو
خوشامند یې کاوه هر پس څو قدمه    په خندا په محبت دې نازک فمه
لیری ولاړو د کورو څخه پنا سوو    هلته کینستو د ریګ په راایستا سوو
ډب می جوړ کړ اوریګونه سره لیری    لور می ډیر راته خندل خوږی خبری
په وړو لاسو به زما سره اخته وه    په خندا به د ریګو په راایسته وه
ول چی دا وکړم خوږه بیا راکوی؟    ماول خود چی ته اُبا خوشحالوی
ما ویل کښینه پدی ډب کی لوړکی    دا هم تا سوه وهغه ته خوارکی
په کرار کرار می ریګ پر اچوله    تر یو وخته هغی خواری به خندله
هغی کله کړ باور چی ددی پلار    به دا وژنی په دوستی کی ها خونکار
چی په ریګو کی سوه ښخه ترځیګره    په ژړا سوه په کوښښ چی سی بهره
ما نور ریګ ددې پر سر ور اړوله    او ژر ژر می په هغه کی پټوله
دی می بڼیری او وغاړی ته حملې کړی    د مرګی په ساه یی سوی غلبلې کړی

دې کړفکر، کوم بلا سوه پر رابره
له کوم خوا باندی راغلې نابېره

پلار بې خلاصه کړی له هغی سمدستی
هغه کله په دی کار کی کړی سستی

هغی کله شک درلود د پلار پر رحم
پلار باید وی مهربان بیشک و وهم

خو ما نه کتل هغی ته نه چی بیا
د نجات امید یی نور سی ورپیدا

تیراوه به می خپل ځان چی گویا زما
لا پام ندی چی راغلی پری بلا

د هغی تلاښ وو داچی ما کړی پوه
خو زه پوه وم ځان نیولی می ناپوه

په مړو سترگو او ناپوه ښوولی شان
ریگ می اړول ژر ژر ددی پر ځان

د ظالم سترگی وی مړی و یو کمکی ته
وی احمق به لوی سړی و یوکوچنی ته

لور می هرڅه که تلاښ او غلبلې کړی
ما ژر ښخ یی ور لاسونه او اوږې کړی

د ژړا خوله می په ریگو کړه ورډکه
هم پر سر می ور انبار کړله بیشکه

مطمئن چی سوم نور ښخه سوله دا
راروان سوم و خپل کورته یک تنها

کورته راغلمه ستومانه او پریشانه
په چرتونو کی لاهو او سرگردانه

د هغی ژړا تر اوسه زوکلوی می
نامردی خپل لا تر هرڅه زوروی می

چی تراوسه ها رایاد کړمه ژړیږم
د خپل رب په استغفار یمه کړیږم

دا قصه د جهالت د وخت مقال دی
هلته ښخو ته دا حق دایی مثال دی

---

اسلام راغی رایی ووړعظیم تغییر
په عاداتو په رواج او په تعبیر

پیغمبر ویل د لور وژل حرام دی
دا کارونه مخالفه د اسلام دی

مساوات د نر و ښځه سو اعلان
په فطرت په وجایب او په ایمان

فرق یی نسته زوی و لور دواړه یوشان
که چا فرق وکړ ایمان ته یی تاوان

که چا مړه کړه خپله لور هغه خونی سو
د اللّٰه په نزد منفوره دوزخی سو

پیغمبر ویل جنتي دي ها پلار و مور
که درې لوڼی یی لوی سوی وی پر کور

هغه کور کی د خدای رحم برکت دی
په کوم یو کی چی د لور ناز و عزت دی

اسلام ختم کړ رواج د جهالت
د بی ځایه ننگ و عار او ضلالت

له تیارو یی ټول را وایستو و نور ته
بیراهه شخه هدایت او کوه طور ته

بشر بیرته اوس بی لاری ښځه شومه
حق یی هرچیری پایمال او سردرگومه

مسلمان رجعت پسنده سو یارانو
وسیله کړه د شهوت ښځه غربیانو

د پیشرفت په نوم بدرفت ځینو خپل کړی
زوړ رواج دی چا ددین سره گډ کړی

فاروق اعظم
لندن – ۲۱ جولای ۲۰۰۴